شهسوارسنګروال ۲۰۲۴/۰۴/۰۴

# افغانستان یوه پېړۍ کې

## د مشروطه غوښتونکو غورځنګ

## ۵څپرکی

د امیر حبیب الله خان یوشمېر کورنۍاوباندینۍستونزې درلودې ،لارډ کرزن دهند هغه ویسراې و چې ډېره موده په دې دندې پاتې سو ،هغه دفارډورډ دپالیسي له لیونتوب سره جوړ نه و، نه یې غوښتل چې په هرجنګ کې دې انګریزان ښکېل وي دا دنده یې سیمه ییزو ځواکونوته سپارلې وه .

دکرښې کمشنرروز کیپل په ۱۹۱۶کال ووېل ،دبوچر اوبولډ تګلاره نوره زړه سوې ده ،هرڅه باید دجګړې له لارې حل نشي . هغه وخت باید دېیورنډ دکرښ نه وروسته بایدټوله سیمه نیول سوې وی ، سره ددې چې نړیوال فکر کوي چې اوړي کې به دوی په امیر برید وکړي .

انګریزانو له دې ویره درلوده چې جرمن په کابل کې سفارت پرانیزي اوهم دهند دموقت حکومت اعلان دایوبل ګواښ وواودرېیمه اندېښنه یې له نصر الله خانه درلوده .

انګریزانو کوښښ کاوه چې دوی سره ښېل کړي ،خوډاکتر تورن ببرډ وایي کله چې ما دامیرپه عملیاتو پیل وکړ نصر الله خان ډېر خپه و، برعکس ما فکر کاوو چې دی به خوشحاله سي ، ولې ژړل یې .

که څه هم دحبیب اله خان دوزلوپوبل داستان چې یوسند په برتش کتابتون کې خوندي دی دبریتانیایوه جاسوس چې مصطفی صغیر نومېده ، دانګریزانودباندینیوچارو دوزیر په خدمت کې و، چې دترکې ولسمشرمصطفی کمال له مینځه یوسي ، خو ونیول شو اودتحقیق په نتیجه کې ده اعتراف وکړچې ماته دنده راکړ شوې وه چې په افغانستان ، پارس،هند اوترکیه کې یوشمېروژنوته لاره اواره کړم .

تاریخپوه غبارده نوم دامیر حبیب الله خان دقاتل په توګه یاد کړی دی ،خو پرته له سپینا وینه یې بیادامیر قاتل شجاع الدوله یاد کړی دی .

قاتل که هرڅوک وو،که په دې توطیه کې دانګلیس لاس هم و،خو دامیر دوژلوتوطیه دافغان په لاس عملي شوه ،ښایي چې دهند دانتقالي حکومت تاسیس انګرېزانو ته دځغم وړ نه وو.

انګریزانو ته داهم ګرانه وه چې دنړیوالې جګړې په موخه دافغاني ځواکونو پروړاندې پوځونه واستوي ... امیر هم په دې پوهېده چې انګریزان دده پروړاندې دتوطیې په لټه کې دي .

دامیرد واکمنۍ یوه بله مهمه پېښه داوه چې نوموړي هغه شمېر وګړي بېرته هېوادته را وبلل چې د امیرعبدالرحمن خان د واک او ځواک پرمهال له هېوادنه شړل شوي وو.

د دغو فراریانو او شړل شویو په لړکې یوه کورنۍ هم د طرزي وه.

«غلام محمد طرزي له خپلې ټولې کورنۍ سره یوځای د امیر عبرالرحمن خان په امر او سپارښتنه له افغانستان نه بېرون کړی شو او په پای کې په عثماني سورې کې استوګن شول»[1]

ولې د امیرحبیب الله خان د فرمان له مخې کله چې محمودطرزی بېرته هېوادته ستون شو، نو هغه څه چې یې په عثماني ترکیه کې لیدلي ول، خپلې تجربې یې له ځانه سره هېوادته راوړې.

د دوه شهزادګانو خسر طرزي(امان الله خان او عنایت الله خان) د خپل یوه زوم عنایت الله خان پرمټ د سراج الاخبار افغانیه د بیا خپرېدو ویاړ تر لاسه کړ.

د سرج الاخبار خپروني نه یوازې ښونیز او روزنیز ارزښت درلود بلکې په څنګ کې یې سیاسي ارزښت او پایښت هم د پام وړ و چې چې د مشرطه غوښتونکو د غورځنګ د پراختیا او پرمختیا لپاره یې لاره پرانسته.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

انګريزان هم په دې پوهېدلي وو،چې سراج الاخبار (۱۹۱۱)هره دوه اونۍ يووار خپرېده سيکولر اسلامي مطالب اودنړۍ پېښي ،دملت پالنې،تکنالوجي دودې اوپرمختګ مطالب دطرزي په مديريت خپرول .
د افغانستان دغه سياسي غورځنګ په داسې مهال کې مېنځته راغی چې په نړۍ او سيمه کې هم د مشروطه غوښتونکو غورځنګ خپلې سياسي ربښې د ولس په مېنځ کې ځغلولې وې.
په بريتانيه کې دپارلمان له خوا د مشروطيت بنسټ په داسې مهال کېښودل(۱۷مه پېړۍ) شو چې په هندوستان کې د دوی لخوا ختيځه کمپنۍ جوړه شوې وه.
په ۱۷۸۹ز کال د فرانسي انقلاب هم د واکمنو زور واکۍ ته د پای ټکی کېښود.
په ترکيه کې د« د رشيد پاشاه او مرحت پاشاه) تر مشرۍ لاندې هم يو شمېر پرمختګونه دیادولو وړ ګڼلی شو.
د ناصرالدين شاه ځای ناستی مظفرالدين شاه هم (که څه هم اقتصادی ستونزې يې لرلې) د مشروطيت (۱۹۰۷زکال) پلان اعلان کړ.
که څه هم ميرزاتقي خان يو شمېر اصلاحي پروګرامونه طرح کړي ول.
په ترکيه کې دوم سلطان حميد هم (۱۹۰۸) د مشروطيت فرمان خپور کړ. له دېنه سربېره په مصر، عراق او سوريه کې هم د مشروطه نظام بنسټونه کېښودل شول.
په روسيه کې د ۱۹۰۵ او ۱۹۰۷ کالو انقلابونو په نړۍ کې په تېره په منځنی اسيا کې ژور سياسي بدلونونه منځته راوړل.
د هند په نيمه وچه کې د انګرېزانو په وړاندې پرله پسې پاڅونونو په سيمه کې ستر سياسي بدلونونه په ځانګړې ډول د سياسي شعور د ودې او پرمختګ لپاره رامنځته کړل.
په افغانستان کې هم دې موخې ته درسېدو لپاره د يوه مشروطه نظام د ټينګښت په هيله دمشروطه غوښتونکو مبارزه په درې برخوکې روانه وه.
لمړۍ هغه ډله وه چې په دربارکې د ننه يې د مشروطيت ناري وهلې. هغسې خو سردار نصرالله خان (نايب السلطنه) او شهزاده امان الله خان هم د امير حبيب الله خان له دريځ سره مخالف وو چې له انګرېزانو يې د هېواد خپلواکی په کلکه ونه غوښته. نو ځکه خو يوشمېر درباريانو او«غلام بچه ګانو) هم زړه ومونړ چې د امير تر ږيرې لاندې خپل سياسي فعاليتونه پرمخ بوځي.
د همدې(غلام بچه ګانو) سياسي هلي ځلي وې چې شجاع الدوله د امير په وژلو تورن ګڼل کيږي.
دويمه هغه ډله وه چې د حبيبيې په ښونځي کې فعاله وه. په دغه ډله کې ښوونکې، ليکوال، شاعران او پوهان راټول ول.
نه يوازې د کور دننه ليکوال او پوهان بلکې له هېواد نه بهر يو شمېر نور هم د مشروطه غوښتونکو په کتار کې درېدلي ول چې موږ ډاکټرغني د سارې په ډول يادولي شو.
يو شمېر نور چې نه په دربارکې ول اونه د حبيبيې په ښونځي کې، دوی په ازاده بڼه د مشروطيت ملاتړ کاوه ،او له دواړو ډلو سره يې سياسي اړيکې پاللې.
دغو روڼ اندو او روښان فکرو کسانو د سياسي تشکيلاتو له مخې يو«پټ ملي ګوند» هم رامنځته کړ.
د دغه ګوند «ديوې ډلي مشرتاج محمدخان بلوچ پغمانی او دګوند ديوې ډلګۍ يو غړی جوهر شاه خان غوربندی او دهغه منشي ميرسيدقاسم لغمانی» (د حبيبيې ښونځي ښوونکی)، په ګوند کې دهندوستان د مسلمانانو يوه ډلګۍ هم وه چې مشري يې ډاکټر عبدالغني خان پنجابي په غاړه وه او غړي يې مولوي نجف علي خان او محمد چراغ(د غني ورونه)، مولوي محمدحسين خان پنجابی (ټول په حبيبيه کې ښونکي ول) او امرالدين خان ول...
د ګوند په يوې عمومي غونډه کې پرېکړه وشوه چې د ګوند هر غړی بايد يوه تمانچه ولري...د دغه پرېکړه ليک کاغذونه تاج محمد خان پغماني ته وسپارل شول.[2]
د دغه پټ راز په تړاو انګېرني داسې وې چې د دغو پېښو د رسوا کولو ريښتينی لوبغاړی ډاکتر عبد الغني خان او د ده ورونه ول.
وروسته پېښو وښوده چې دده ورور نجف علي خان اروپا ته د امير امان الله خان او دده مېرمنې «ملکې ثريا» د تللو په تړاو په قبايلو کې په ډاګه دا ډنډوره ګډه کړه چې دافغانستان پاچا او مېرمنه يې ثريا له دين نه او ښتي دي، او په ناوړه کړو وړو بوخت دي.
ښايي د ډاکټر عبد الغني خان (دی په لندن کې د نصرالله خان ژباړن وه) موخه داوه چې له يوې خوا د افغانستان د خپلواکۍ مخه ونيسي اوله بلې خوا دغه غورځنګ چې په افغانستان کې د هند د انتقالي حکومت د غړو جې مشريې مهندراپرتاب، صدراعظم يې مولوي برکت الله او د بهرنيوچارو وزير مولوي عبيدالله سندي وه، ملاترکاوه هم له پښو و غورځوي.
ولې افغان تاريخ پوه غبار په خپل کتاب کې کښلي دي چې:
«محمد شريف خان او تاج محمد خان پغمانی چې دواړه ورونه وه په يوه کورکې اوسېدل ولې دخپل ورور د دريځ سره مخالف وه. ده د حکومت ديوه مامور په توګه د غونډې ټول کاغذونه تر امير پورې ورسول»...


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

هفه مهال چي امير(۱۹۰۹زکال) په جلال اباد کې وو. ددې گوند دوه غړي استاد محمد عظيم خان او ملا منهاج الدين خان« د شهزاده محمد کبيرخان ښونکي» د گوند د غړو لست اميرته و ښود او ورته يې وويل چې د دوی موخه د امير وژل او د مشروطه دولت جوړول دی.[3]
د همدغه لاملونو له کبله امير دېته ولمسول شو چې د دغه گوند يو شمېر مخکښ او نامتو غړي چې شمېريې لسگونو ته رسېده يا زنداني کړل اويايي له منځه يو وړل. ولې پوهاند حبيبي هم په لږ توپير ورته شمېر په گوته کړی دی. خو مير محمد صديق فرهنگ د غبار او حبيبي (جنبش مشروطيت) ليکنوته په دغه برخه کې د شک په سترگه گوري.
«عبدالحی حبيبي جنبش مشرطيت»(د چاپ کال ۱۳۶۴) په کتاب کې ۴۷ تنه ياد کړي دي او له هغې جملې ۴ تنه (محمد ولی خان بدخشي، مير زمان الدين بدخشي، شجاع الدله خان غوربندی او عبد العزيز خان کندهاری) په ناڅاپي توگه خلاص شول او نور زنداني شول.
حبيبي دغه لست له يوې مقالې نه چې د کاروان په جريده کې (دچنگاښ ۱۳۵۱-۱۸ کال) د سيد قاسم خان له خولې د پښتونيار په قلم خپور شوی دی په شخصي بڼه تر گوتو کړيدی.
ذکر شوي مير چې د جنبش فعاله غړی وه ډېره موده يې په زندان کې تېره کړه. دده ځرگند وني د باور وړدي ولې دا هم د پام وړ دی، د مولف په قول، ميرصاحب د عمر د زيات والي له بابته د حافظې ستونزې لرلي (جنبش مشروطيت ۶۶مخ) نو ځکه خو ځينو تېروتنو ترې سر واهه.
فرهنگ وړاندې کاږي: دغه ځرگندونې د تامل وړ دي چې د مولوي عبدالروف زامن دمولوي عبدالواسع کندهاری او مولوي عبدالرب چې د بنديانو په جمله کې وه. ولې غبار په خپل نوملړکي نه دي ياد کړي.
له دې سربېره ښاغلي حبيبي د مولوي عبدالواسع خان (هماغه کتاب ۲۷مخ) په اړه ليکلي دي چې نوموړي د امير حبيب الله خان دواک په وروستيوکې د کندهار د ښونځيو«سره رشته دار وو). دا خبره له احتمال نه لرې ده او عقل يې هم نه مني، امير هغه ځوک چې د ده په وژلو تورن وه او بيا يې ځرنگه ده ته د ښوونې او روزنې چارې ورسپارې؟.[4]
د دغه مهال کوم نوم لړ چې مير غلام محمد غبار خپور کړی دي په دې ډول دي:

۱ ــ لعل محمدخان(د امير غلام بچه) د جان محمدخان زوی
۲- محمدعثتان خان پروانی د محمدسرورخان پرواني زوی
۳- جوهر شا خان غوربندی (غلام بچه) دی هم په جلال اباد کې د امير پر وړاندې د نورو په څېر اعدام شو.
۴- محمدايوب خان پوپلزی د تاج محمدخان زوی
۵- ملامحمدسرورخان دحبيبيي ښوونکی د مولوي احمدجان الکوزي زوی.
۶- سعدالله خان الکوزی په کابل کې په توپ والوزول شو.
۷- عبالقيوم خان الکوزی په کابل کې په توپ والوزول شو.
د همدې گوند هغه غړي چې په بند محکوم شول.
۸- غلام محمدخان ميمنه گی (رسام او پروفيسر).
۹- تاج محمدخان يغمانی د علي محمدخان بلوچ زوی.
۱۰- ميرزا محمدحسن راقم کابلی.
۱۱- ميرزا عبدالرزاق کابلی.
۱۲- ميرزمان الدين خان بدخشانی.
۱۳- محمد انور بسمل د محمد صفرخان ناظر زوی چې دغه ناظر دقطغن والي وو.
۱۴- احمد قلي خان قزل باش چنداولی.
۱۵- عدالوهاب خان کرنيل.
۱۶- پادشاه ميرخان لوگری(غلام بچه)
۱۷- نظام الدين ارغنديوال (غلام بچه)
۱۸- قاضي عبدالاحد خان سلېمانخېل ارغنديوال
۱۹- ميرسيد قاسم خان لغمانی(مير صاحب)
۲۰- ميرزا غياث الدين خان د مستانشاه کابلي زوی.
۲۱- حافظ عبدالقيوم خان د حافظ مجذوب زوی.
۲۲- محمد ابراهيم خان (ساعت ساز کابلی)
۲۳- عبدالمجيد خان (ساعت ساز کابلی)
۲۴- عبدالرحمن خان د مولوي محمد سرورخان ورور.
۲۵- شېرعلي خان بارکزی.
۲۶- ملامحمداکبراسحق زی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولـئ

۲۷- جلال الدین کندهاری.
۲۸- کاکا سید احمدخان لودین.
۲۹- عبد الرحمن خان محمدزی د سردار عبدالوهاب خان زوی.
۳۰- حبیب الله خان د سردار عبدالوهاب خان زوی.
۳۱- محمدرسول خان محمد زی.
۳۲- امرالدین خان.
۳۳- مولوي مظفرالدین خان بلوچی خروټی.
۳۴- ډاکټر عبدالغني خان پنجابی.
۳۵- مولوي نجف علي خان د عبدالغني خان ورور.
۳۶- محمد چراغ د داکتر غني بل ورور.
۳۷- مولوي محمدحسین پنجابی.
هغه کسان چي د امیر لخوا عفوه شول:
۳۸- مولوي غلام محی الدین افغان د حبیبی ښوونکی.
۳۹- سردار حبیب الله طرزی محمد زی.
۴۰- حاجي میرزا محمد اکبرخان یوسفي.
۴۱- حاجي عبد العزیز خان «لنګرزمین»
۴۲- محمد اسلم خان سیغاني.
۴۳- صاحب زاده عبدالله خان مجددي.
دګوند هغه غړي چي دولت دوی د خدمت په بدل کي ونازول:
۴۴- استاد محمد عظیم خان.
۴۵- ملا منهاج الدین خان د شهزاده محمد کبیرخان ښوونکی.
له یادو کسانو ۷ تنه اعدام او پاتي نور یي زنداني شول چي یو شمېر یي د امیر د مرګ نه د مخه ازاد شول، او نور دده د واک تر مهاله په زندان کي پاتي شول.
امیر حبیب الله ولي ووژل شو؟
امیر حبیب الله خان د جولای په دویمي (۲) نېټي ۱۸۷۲ز کال په سمرقند کي زېږېدلی دی، او دوخت دودیزي زدکړي یي دهغه مهال له استادانو او پوهانونه هم په ښه توګه ترسره کړي.
یو شمېر لیکوال انګېري چي د ده مور د روسي ترکستان د کوم مشر لوروه ولي حقیقت دادی چي دی دهغي وینځي زوی وه چي دامیر عبدالرحمن خان د مېرمني په چوپړ کي وه.
د امیر هغه مېرمن چي د بدخشان د یوه نامتو میر جهاندارشاه لور کېده خو اولاد یي نه کېده، شنډه وه، ولي د هغي له مرګ نه وروسته (که څه هم د امیر عبدالرحمن خان بله مېرمن چي دده د کاکا لور وه حلیمه نومېده) امېر د دي له وینځي سره واده وکړ چي «ګلرېز» نومېده.
سردار نصرالله خان او امیرحبیب الله خان د همدې ګلرېز زامن ول چي امیر د اوه څلوېښت (۴۷) کالو په عمر د لغمان په کله ګوش کي ووژل شو.(۱۹۱۹/۲/۲۰)
داچي امیر حبیب الله خان ولي ووژل شو ددې لاملونو لنډ جاج اخلو:
۱ – امیر حبیب الله خان ته یو څه ستونزې له خپل پلار نه په میراث پاتي وې چي مورږ د ساري په توګه ۱۸۸۰ز کال ترون یادولی شو چي ګني د افغانستان د بهرني سیاست واک به د انګرېزانو په ولکه کي وی.امیر به د برتانوي هند یو مسلمان داستازی په توګه مني.
انګرېزان به اوځي د امیر حکومت به په رسمیت پېژني. په پای کي همدغه ترون د هغو درې مکتوبونو پر بنسټ ترتیب شو چي د امیر عبدالرحمن خان او برتانوي هند د بهرنیو چارو سکرتر«ګریفن» تر منځ تبادله شوی ول.
۲- د ډېورېنډ موافقه لیک (۱۸۹۳ کال) دا یو بل ناورین وه چي حبیب الله خان یي دېته اړکړ چي د خپل پلار موافقه لیک ور غبرګ کړي.
۳- د ډېورنډ د کرښي د نا څرګندو سیمو په نښه کول یو ځل بیا دامیر په وړاندي غبرګونونه را وپارول.
۴-د انګرېزانو په سپارښتنمه د کرښي پورې غاړې پښتنو مشرانو سره په نه اړیکه ټینګار، د ولس دخوا بدی لامل شو.
۵- هغه غبرګونونو ته دپای ټکی اېښودل چي دانګرېزانو په وړاندي چمن ته یي د اورګاډي کرښه کاږله. د خلکو دناهیلی سبب شوه.
۶- کابل کي د برېتانیا د استازي منل، هم په هرات او کندهار کي د انګرېزانو د خبریالانو ملاتړ د امیر پر وړاندي کرکه او وېره هم زیاته کړه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

۷- هغو پېښو ته د پای ټکی اېښودل چې د برتانوي هند او افغانستان په پوله د انګرېزانو په وړاندې پېښېږي. خلکو د امیر دغې پرېکړې ته په ښه سترګه نه کتل.
۸- د برتانوي هند استازي«دېن» کوښښ کاوه چې د امیر حبیب الله خان نه داسې ژمنه تر لاسه کړي چې د اورګاډي کرښه تر کرمې او خیبر درې پورې و غځوي. دغو ګونګوسیو د خلکو اندېښنې زیاتې کړې.
۹- د امیر ورور نصرالله خان او زوی یې امان الله خان هم کوښښ کاوه چې امیر دېته وه هڅوي چې په لمړۍ نړیواله جګړه کې چې له انګرېزان وه غواړي د افغانستان ازادۍ ته غاړه کېږدي، او هغه سیمې چې د ډیورنډ د موافقه لیک له مخې بېلې شوي دي افغانستان ته بېرته پرېږدي او که نه دعثماني ترکې او جرمني په ملاتړ باید د پښتنو سیمه کې پاڅونو ته لاره پرانیزي.
۱۰- په ډېرې نا هیلۍ اروپایي پلاوی له افغانستان (۱۹۱۶ ز کال) نه بېرون شو خو ترکان د جګړې تر پایه پاتې شول او د برتانیې په وړاندې تبلیغ کاوه.
یو شمېر داسې انګرنې د امیر غوږ ته ورسېدې چې د هند د نیمې وچې او د منځنۍ اسیا مسلمانان به د عثماني ترکیې په ملاتړ او په تاشکند کې د جرمني زندانیانو په وسله وال کېدو عمومي پاڅون پیل شي چې د بریالیتوب په پایله کې به امیر حبیب الله خان ټولواک و ټاکل شي.
ولې امیر له دغو سرچینو سره کومه مرسته ونه کړه.
۱۱- کله چې نړیواله جګړه پایته ورسېده. انګرېزانو د امیر غوښتنو ته کوم مثبت جواب ونه ویل، نو ځکه خو دترکې مسلمانانو، دامیر ورور، د امیر زوې مشروطه غوښتونکو او نور ملي شخصیتونو دامیر په وړاندې کرکه پیداکړه.
۱۲- امیر حبیب الله خان چې کله له «لارډ چیلسفورد» (د هند وایسرای) نه وه غوښتل چې (د فبرورۍ ۱۹۱۹-۲ ز کال) د پاریس په کنفرانس کې برخه واخلي او د افغانستان د ازادۍ غږ راته پورته کړي، ولې هغه دغه غوندېه هغو هېوادونو پورې ځانګړې وبلله چې ګنې په جګړه کې ښکیل ول.
۱۳ - د مشروطه غوښتونکو اعدامول دا یوه بله غمیزه وه جې په ټول هېواد کې د امیر په وړاندې یې غبرګونونه را وپارول. دغو غبرګونونویوه بېلګه دا شوه چې له یوې خوا دامیر په وړاندې «شبنامې » خپرېدلې او هم عبدالرحمن لودین د همدې مشروطه غوښتونکو له وژلو څخه ۹ کاله وروسته په ۱۹۱۸ کال کې د جشن په شپه په امیر حبیب الله خان برید وکړ ولې امیر ونه لګېد او وژغورل شو.
عبدالرحمن لودین چې د سراج الاخبار محرر وه پلار یې سید احمد «کاکا» د مشروطه غوښتونکو په تور په بند کې وه. د تومانچې له ډز نه وروسته د پېښې له ځایه وه تښتېد.
خو په دا سبا د میرزا محمد حسین خان مستوفي له خوا ونیول شو. دی او عبدالهادي خان داوي زنداني شول.
۱۴- د هغې پېښې رسوا کېدل چې د هند د لنډ مهالي اداري پیغام یوه غړي مولوي عبیدالله لخوا کابل نه مولوي عبدالرحیم خان سندي او بیا دهغه په وسیله شیخ الهند محمود الحسن ته چې په عربستان کې وه ولېږه چې د خپلو کړو نچوړ ورپه ګوته کړي، خو د انګرېزانو د لاسپوڅو لخوا (خان بهادر او رب نوازخان) دغه لیک رسوا شو.
د امیر حبیب الله خان او دبرتانوي هند د چارواکو د ګواښ په وړاندې سردار نصرالله خان، سردار عنایت الله خان او سردار امان الله خان غبرګون و ښود. ولې یو شمېر درباریان په سرکې عبد القدوس په دې هیله ول چې دانګرېزانو سره باید دوستانه اړیکې و پالل شي.
۱۵- امیر حبیب الله خان د خپل واک په لمړیو کلونو کې د خپل پلار په پرتله د پام وړ کارونه تر سره کړل. ولې د خپل واک په وروستیو کې امیر دومره عیاشۍ ته مخه کړه چې یوه (شپه د چهلستونپه مانۍ کې چې د امان الله خان مور) «علیا حضرت سرور سلطان» هم وه حبیب الله خان پخپلو ناوړه کاروکې دومره بېباکه شو چې د ملکې علیا حضرت غوسه یې هم را وپاروله» [5]
که څه هم دا د ې ایراني لیکوال (سید مهدي فرخ) د لیکنې غبت ټکي ول چې ده هم د خپل تعصب له مخې یادې څرګندونې غبرګې کړېدي.
ده په خپله لیکنه کې ډېره (غلوه) کړېده، چې ده ته ورته څرګندوني میر محمد صدیق فرهنګ د«هملتن) له قوله هم په خپل کتاب کې لیکلي دي.
« نوموړې ملکه ډېره مغروره او جاه طلبه وه ».
داد « شاه اقاسي خېل» له کورنۍ نه وه لومړی کوښښ وکړ هغه مېرمن له منځه یوسي چې د امیر د پاملرنې وړ وه. هغه دوه وینځې چې د امیر له خوا بلاربې شوې وې هم ووژلې.
او د دوه نورې مسخه کړې».[6]
په دې کې شک نشته چې امیر یو عیاش انسان وه او دې کې هم شک نشته چې د امان الله خان مور دشاغاسی شېردل خان لور او د بارکزیو له ټبره وه. ورور یې خوشدل خان نومېده چې زوی یې والي شاغاسي علي احمد خان وه او د ملکې زوم هم کېده.[7]


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

امان الله خان او موريې (عليا حضرت سراج الخواتين) چې له دې خبرتيا تر لاسه کړه چې ميرزا محمدحسين خان(د استاد خليلي پلار) د امير تر غوږرسولې ده، ګڼې امان الله او مور يې غواړي چې تاسې په خپلو مامورينو له منځه يوسي.

اوس نو حبيب الله خان پرېکړه کړې چې امان الله خان وه وژني او مور يې طلاقه کړي.[8]

زوی او مور له ډېرې وېرې د نصر الله خان په پښو کې سر کېښود چې امير ته د دوی شفاعت وکړي.

دې پېښو د خنځير د کړيو په څېر يو بل ته لاس ورکړ او په پای کې امير حبيب الله خان د دې پېښو قرباني شو.

---

[1]:-طرزی محمود، د يوې دورې لنډ تاريخ

[2]:- غبار ميرغلام محمد افغانستان در مسير تاريخ ۷۱۷مخ

[3]:- همدغه اثر۷۱۸-۷۱۷مخونه

[4]:- فرهنگ مير محمدصديق افغانستان در پنج قرن اخر ۴۶۶مخ

[5]:- سيد مهدي تاريخ سياسي افغانستان ۴۳۰مخ

[6]:- فرهنگ مير محمد صديق افغانستان در پنج قرن اخير انګوس هملتن افغانستان ۱۹۰۶ لندن ۴۰۲مخ

[7]همېلتن ۳٦۲مخ



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ